AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال
۲۰۲۴/۱۰/۰۵

# لیـــوني

زیـړوی ځـمکه په هر ګام په هر قدم لیوني
شمال،جنوب، په شرق اوغرب کی دم په دم لیوني

توله نړی د لیـونو لاس ته ورغلـي ښکاري
دي را وتلـي لـه جنت نه د آدم ع لیـــونـي

دنیـا ته ګوره پکښـي ډیر به لیـوني و ویني
څوک د تبلیغ، څوک د توپک او څوک د بم لیوني

هم ژوبلـوي او هـم دی وژنـي خو عـجـیـبه داده
درته راوړی د انسانیت په نوم مـرهم لیـوني

ړانده، کانه دي ټول له مخې د قدرت لیـوني
بس جوړوی هره شیبه په ځمکه غم لیـونـي

ای سـاده خلکو لیـونیو ته واک مـه ورکوئ
که ملګرتیا ورسره پریږدو، شي به کم لیوني

اګست/۱۲/۲۰۲۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ